خورشید عطائی

۲۴.۰۷.۱۰

## ملی وحدت

راځئ چې مونږه یو داسـتان جوړکړو
خـــزان وطــــن نه ګلستان جوړ کړو
دیــــرغلـــګرو دجـــهان دســـیسی
دخـــون خـــوارانودقتـــلونـــو کیسی
شیندی کړو دغه ټول حیران جوړکړو
راځـی چی مونـږه یو داستان جوړکړو
خـــزان وطـن نه ګلســـتان جوړ کړو
اوږده غمـــــیزه دغـــمونـو ډکـــه
دهــــرافـــغان ژراویـــرونـــوډکـــه
دنــــامــرادو انـــګـــورونــــوډکـــه
امـن جـــهان کی جـــاودان جوړ کړو
راځی چی مونږه یو داستان جوړ کړو
خـــزان وطــن نه ګلســـتان جوړ کړو
دتعصب جهل نفاق په اورسیزلی کسان
دا وینــــی څښـونکی دا دورور قاتلان
دا دبـــردیـــو به لمــــسون ګوډاګیــان
دا وطـــن ورانـــي دوطـــن دښمـــنان
په زیـــار کوښښ وطن ودان جوړ کړو
راځی چی مونږه یو داستان جوړ کړو
خـــزان وطـــن نه ګلسـتان جوړ کړو
د محـبـــت دالفـــتونـــو غـنـــچـی
دخـپـــل بـــابـــادنصیـــحبونـــو غنچی

دګـــران وطـــن دخدمتـــونو غنچی
دورور ولـــۍ او وحـــدتـــونو غنچی
په خپل همت وغوروویوګلستان جوړکړو
راځـــۍ چی مونږه یو داستان جوړ کړو
خـــزان وطـــن نه ګلستان جوړ کړو
کـــه یـــو بشـــتون یاهزاره که تاجک
دګـــران وطـــن دبـــدن غری یو ټول
دابـــیلوونـــکی نـــا تـــوان جوړکړو
ددی خبـــری نه یی ښیمان جوړ کړو
راځـــۍ چی مونږه یو داستان جوړکړو
خـــزان وطـــن نه ګلســـتان جوړ کړو .